مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۵/۲۹

# د علم رڼا

په رڼا د علم حـــل شـي هر مشــــکل
که څوک ولري، ذره ترې نه حاصـــل

د مشکل حـل وي، پـه لاس کې د هـغو
چي تو لنـــــه کي، يادیږي په عـاقل

که دانا په خپـــل نفس باندي حـاکم وي
دی به نه کانـدي کارونه د جــــاهل

چي د علم په زیـــور باندي سمبال وي
نو به نه ځي، بیـــا پـه لاره د باطـــل

ښه ښـکاریـږي په جامـه د مـــعرفت
په مسند بانـدي حـــاکم چي وي عادل

په تجربو او ګرویـږنو شي حاصـــل
شخصــــــيت د پاره لوړ ـ لوړ مراحل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ